# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

## AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com　　www.afgazad.com

| مسایل ایدولوژیک | Ideological |
|---|---|

ليکنه اوتولوونه :

امين الدين «سعيدی – سعيد افغانی » دافغان استراتيژيکو څيرنيزمرکزاو

دحق دلاری کلتوری ټولنی مدير مسؤل – جرمني

بسم الله الرحمن الرحيم

# دلغمان مهتر لا م صاحب واقعآ پيغمبر وو ؟






Mehtarlam Zyarat in Laghman زیارت مهترلام صاحب

داقبر د لغمان ولايت د باباصاحب په داگ کي پروت ، او دمزار

د خاصو او عامو خلکومرجع ځای دي .

گرانو لوستونکو!

ألله تعالی د نحل د سوری په ۳۶ آیه کی فرمایی :

(وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَسُولًا أَنِ اُعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ )

**ما د هر ملت په مینځ کی خپل پیامبر لیږلي ، دتولو پیغمبرانو ددعوت رسالت داوو چی انسانان د الله پاک عبادت ته را دعوت کړی او هغوي د طاغوت له عبادت نه منع کړی .**

## په قرآن کي الهي پيغمبران

**دعلماوو او مفسرانو د تحقیق پر اساس چی په قرآن عظیم الشان کی کړی په ٤٩ سوره کي دپیغمبرانونومونه ذکرشوی چی دهغه جملی نه( دبقره ، آل عمران ، نسا ء ، مائده ، انعام ، اعراف ، توبه او ... دسورو نمونه اخستلي شو )**

**مشهور ترین واحسن ترین روایت دمفسرانو په حواله همدا دي چی دپیغمبرانو تعداد ۱۲٤زرو ته رسیږی چی دهغی جملی نه ٦ تنه ئي اولو لعزام پیغمبران دي . او همدا شان دعلما و دتحقیق پر بنیاد د رسولانو تعداد ۳۱۳ تنو ته رسیږي .**

**په قرآن عظیم الشان کی د ۲۷ پیغمبرانو نومونه ډیر په و ضا حت سره بیان شوی دي .**

**( آدم علیه السلام ( بقره : ۳۳ ) ، (ادریس علیه السلام مریم، ٥٦)، (نوح علیه السلم ، هود ، صالح ، لوط او شعیب (اعراف، ٥٩، ٦٥، ۷۳، ۸۰، ۸٥) ، یعقوب او اسحاق (بقره، ۱۳۲و۱۳۳)، ابراهیم علیه السلام (نسأ، ۱۲٥)، یوسف علیه السلام (یوسف، ٤(، اسماعیل [ ابراهیم زوي ] (بقره، ۱۲٥، ۱۲۷)، الیاس ا و یونس (الصافات، ۱۲۳ او139) ، الیسع او داوود علیه السلام (ص، ٤٨، ۱۷)، سلیمان (نمل، ۱٦) عیسی او محمد صلي الله علیه وسلم (آل عمران، ٥۹، ۱٤٤)، یحیی (مریم، ۷)، عزیر (توبه، ۳۰)، اسماعیل ] (مریم، ٥٤)، ایوب، موسی، هارون، ذوالکفل و زکریا(انبیأ، ٤٨،83 ، 85، 89 ) دهغی په جمله کی راځی.**

**په مبارک حدیث کي د ابوذر غفاري نه روایت دي چي هغه یوه ورځ دپیامبر صلي الله علیه وسلم نه دانبیا دتعداد اودهغوي دکتابونو په هکله وپوښتل ، پیامبر صلي الله علیه وسلم داسی وفرمایل :**

**« دپیغمبرانو تعداد ۱۲۴۰۰۰ ته رسیږی چی د هغی جملی نه ۳۱۳ ئي رسولان او باقي نور ئي نبیان دي . هغه کتابونه او صحایف چی پر پیامبرانو باندي نازل شوي ، دهغوي تعداد ۱۰٤ ته رسیږی ، (۱۰ صحیفي پر حضرت ادم علیه السلام ، ٥۰ صحیفي پر حضرت شیث علیه السلام ، ۳۰ صحیفي په حضرت ادریس علیه السلام او ۱۰ صحیفي پر حضرت ابراهیم علیه السلام نازل شوي دي ) ، چی تول ۱۰۰ صحیفي کیږي . او همدغسي تورات په حضرت موسی علیه السلام . انجیل پر حضرت عیسی علیه السلام ، زبور بر حضرت داود علیه اسلام او قرآن پر ما باندي نازل شوي . )**

## رسول او نبي :

**کوم هغه علمي تحقیقات او څیرني چي مفسرینو د رسول او نبي په هکله کړیدی ، دوي دي نتیجي ته رسیدلي چی درسول مقام نسبت نبی ته عزیز تر دي . ددي لپاره چی نبي صرف فرشته په خوب کی لیدلي او دهغه څخه احکام اخلي اما دهغه په تبلیغ باندي مامور ندي . اما رسول ددی نه علاوه چی فرشته مستقیماً ویني، دآسماني احکامو په ابلاغ مامور هم دي .**

## مفسرین لیکلي :

رسول : هغه دي چی ددین صاحب اوسي او دهغه په رسولو او تبلیغولو هم موظف شوي وي . یعني آسماني وحي وربادي نازلیږي او په دي موظف دي چی دغه آسماني تعلیمات بشر ته هم ورسوي .

## اما نبي :

هغه ته وایی چي وحي ورته راځي ولي دهغه په رسولو او تبلیغولو موظف او مامور ندي بلکه دهغه وظیفه ده که څوک ورنه سوال وکړي نو هغه ته ځواب ورکوي .( یعني دا په دي معني چي نبي هغه دي چی وحي ورته راځی ولي د هغه په تبلیغ باندي مامور ندي ).

## ګرانو لو ستونکو :

زه غواړم په دغه لیکنه کی دمهتر لام بابا پر پیغمبري هغه اسناد او شواهد ګرانو لوستونکو ته وړاندی کړم چی د هغه ذکر مونږ افغانانو ته دفخر وړ دي .

## لغمان :






دکابل سین او ور سره دلغمان ولایت دختیځي پرخي یوه منظره

اوسنی لغمان دافغانسان د(۳۴)اداری واحدونو څخه یو اداری واحد او یو ولایت دی. دا ولایت د افغانستان په ختیځ کي پروت دی. ددی ولایت ختیځ لوری ته بدخشان،سهیل خواته یې ننګرهاراوکابل،ختیځ لوري ته یې کونړونه او لویدیځ پلوته یې دکاپیساو کابل ولایتونه پراته دي. دکیوشت اوکاشمونډغر لویدیځ نه دسهیل ( جنوب ) په لوري د لغمان ولایت را چاپیر کری دي.هرڅومره چي دکابل سیند په لوري د لغمان ولایت د سهیل(جنوب) نه دشمال په لورپرمخ لاړشو،دځمکي جګوالی یې زیاتیږي .

لغمان دځینی نوروایتونوله مخي له کابل څخه تر پیښوره تولـه سیمه راڼوله داځای دهغې پخوانی لاري په سرپروت دی اویومهم دمه ځای دی چي له سروبي څخه د بادپیچ(بادپښ)له غاښي رادبخواپه زیراني دښته کي شوي وودالیشنګ اوالینګارد رودونود مخامخ کیدوپه نقطه کي کوم ځای چي د نیسایالرغوني ښارپروت دی رارسیږي اوله دې ځایه اد ینه پور (دینپور) ،ننګاراهار اوبله ځانګه یې دګمبیري په د ښته کي کونړونوته ورغځیدلی ده.

د لغمان ولایت پراختیا (۷۲۱۰) کیلومتر مربع ده،نفوس یې (۳۱۰۶۵۱) تنوته رسیږي اوپه یوکیلومترمربع ځمکه کي یې (۴۳) تنه وګړي هستوګن دي.

## د لغمان ولسوالی

### اوسنی لغمان څلور ولسوالی او دوه علاقه داري لري چي :

دقرغيو،الينگار،اليشنگ،ننگراج ولسوالى ددولت شاه اومندول په نومونو علاقه داري دي . دلغمان ولايت ټول (۶۴۰) كلى لرى . يومهال نورستان nيااليناياتوله مربوطا تو څخه ؤ او همدا شان دا سيمه دبودا ي مدنيت مر كز بلل شوي دي زبودايى مدنيت ددې سيمي مركزيت بلل شوى دى اود اشوكا (دهندي يورياتودكورنى پاچا)ددورې دپرليكونه او هم د درونتيـ ترڅنګ ديوشمـې‌ربودايى آثار ددى اصل ښكاروندودي ، كوم چې دڅېړونكواوپوهانودپوره پاملرنې وړدي او حدودالعالم پې بتخانو ته اشاره كړې ده.

# مهتر لا م صاحب (مهتر لام بابا) :

خدايبخښلى مرحوم دكتور محمد سعيد«سعيد افغانى» د لغمان د تيرګريو دخطيب مرحوم مولوي عبد المجيد زوي چې په كال ( ۱۳۰۰ ) هجري شمسي كي دلغمان ولايت دخير آباد په كلي كي زيږيدلي .او د « ۱۳٦٤ » كال دحوت په اوومه د(۱۹۸۵عيسوى كال د فبرورى ۲۵ مه ) ددرى شپيتو كالو په عمر حق ته رسيدلي دى .په خپل كتاب كى چه (زما ژوند) په نامه ياديږى اوپه كال ( ۱۳٦٥ ) هجرى كى خپور شوى دلغمان مهتر لا م صاحب دپيغمبرى په هكله داسى ليكى :

به اسلامى تواريخو او اسلامى رواياتو كى راغلى : «دنوح عليه السلام » پلار، نوم ئى « لمک » او د « متوشلخ » ځوی دی « لمک » ( ۱ ) په زور د لام او ميم او سكون د كاف او يا په زور دلام او سكون دميم لو ستل كيږ ي .

وائي : دى دخيل وخت نبي او پيغمبر ؤ، دمحمود غزنوى له دوري نه مخكى دده قبر معلوم نه ؤ خو سلطان محمود غزنوى په دوره كښى په خپله محمود غزنوى په غزنى كښى خوب وينى ، په خوب كښى ( لمک ) صاحب ورته په خوب ورځى ورته وائى دلغمان په فلانى ځاى كښى پروت يم ، په دغو نښو او نښانو را شه را باندى قبر جوړ كره ، همغه ؤ چى محمود غزنوى دخوب دنښو او نښانو په رهنمائى دلغمان دغه برخى ته راځى او وربانـدى پخه مقبره ، ښكلى ګنبده او لوى باغ ، مسجد او تر څنګه ئى د اوبو لوى او عميق حوض جوړ كرى اود ډير لرى څخه دغره په ډډه كښى په ډير زحمت ورته ويالـه تيره وي .

## سعيد افغانى ليكى :

كه دا روايت او خوب صحيح وى نو دافغانستان اوپه ځانګړى توګه د لغمان تاريخى قدامت ډير ورانـدى ثابتيږى . دمهترلام صاحب ( بابا صاحب ) زيارت اوس د خاصو او عامو مرجع ځاي دي ، په ټول مشرقى كښى څه چې په ټول افغانستان او سر حد كښى ډير شهرت او اعتبار لرى او په پسرلى كښى ورته لـه هرى خوا په زرګونو خلک زيارت ته راځى او تودى ميلى وربانـدى جوړيږي .

زما ياديږى چې هرپنجشنبه به په زرګونو خلک نر ، ښځى ، واړه او غټ دلى دلى دلوى ننګر هار څخه دمهتر لام صاحب زيارت ته را تلل او په دغه زيارت باندي به ئى ګرم بازار جوړو. ځينى زيارت كوونكي به دډولونو په وهلو او بيرغونو په رپه ولو په چک چكو ، غر هار او شپيلو كولو سره دپنجشنبې په ورځ دمهتر لام صاحب زيارت ته راتلل .

هغه وخت به د زيارت تر څنګه او په ځانګړي ډول د پنجشنبى او جمعى په ورځو كښى د ډيرو ميوو او دانو ، جلبيوالبو ، متايانو او كبا بونو دكانونه او كپى هم جوړيدلى ، هلته په دزيارت كى لوى او چوقر حوض اكثرآ داوبو څخه ډک ؤ ، شا او خواته به ئى دزيارت په ورځو كښى چتو ورو طالبانو اتيتونه اچول ، غزلى به ئى ويلى او غو ميرونه به ئى وهل چى دهغى وخت د ملا ( حيات ) په نامه غزلى مى نه هيريږى ، هغه به ډيرى ښى خوږى غزلى ، رباعى او بګتى او دچكچكو په غرش نڅا او اتن كښى به دده دخوږ آواز او اداء خو ښونكى ډير ؤ ، هغه وخت د لغمان دټولو چتو طالبانو مشر ملا ء ( مكروه ) نو ميده ، دى ښه غښتلى او تكړه سړى ؤ ، هغه به دچتو طالبانو تر څنګه پيش پيشقوزي ، په اوږه به ئى ښايسته تبرزينونه او كوتک ؤ ، اوږدى اولو ئى ځنى ئى در لودلى او په ډير هيبت او قدرت به ئى مست ژوند كولو ،چكچكى ، منګى وهل ، غو مبر ، اتن دوى د ساز وسامان ؤ، هغه وخت آكثرچتو طالبانو چندان درس نه ويلو، بلكى ددوى كار سيل او سات تيرى وه .

دهغه وخت دچتو طالبانو څخه یو تن ملا کړو نومیده ، دی یو پوخ سړی ؤ، په کلو کلو ئی دمختصر کتاب تر ښنګه وو او هر کال به ئی یو ښ ورته نوی کولو تر څو خلک ووائی چی ملا کړو پخوانی کتاب خلاص کړی او نوی کتاب ئی شروع کړی دی .

وائی یووار داسی وشوه چی د ملا کړو دمختصر کتاب نبنه چاپته کړی وه ، دی حیران ووٌ چی مختصر کتاب ئی تر کومه ځایه ویلی دی دی اخیر په ډیر تاثر وویلي وو : خدای دی انصاف در کړی زما د کتاب نبنه دی ولی ورکه کړه ، ښه خیر پروا نه کوی زه به د مختصر کتاب له سره پیل کړم خوافسوس چی ته ولی دومره پد نیته انسان ئی ؟

هغه وخت به ځینی ډیر کسان زیارت ته ددعا ګانو دقبلیدو په خاطر ورتلل او د زیارت شیخانو ته به ئی نذرونه ورکول ، دمهتر لام صاحب دزیارت تر څنګه په دونو دلاندی دونو سوری ته ډیر خلک ناست ؤ ، ځای په ځای به سازونه کیدل او د زیارت د باغ په ځینو برخو کښی به کله نا کله دپهلوانی او سپر بازی، تورو وهلو لوبی هم کیدلی او چابه دتیږو د اچولو او ځیز وهلو مسابقی هم کولی .

دمهتر لام صاحب دزیارت مسجد ډیر لوی دی او دجمعی په ورځ هلته دجمعی لمونځ هم کیږی ، هلته د زیارت تر څنګه لو ئی لوئی هدیری جوړی شوی دی او تبرک لپاره هلته دوصیت په اساس معتبره مړی خښیږی .

هغه وخت خلکو په لغمان کښی زیارتونو ته خاصه عقیده درلودله چی د لغمان مشهور زیارت مهتر لام صاحب او بل د نور لام صاحب دی. د مهتر لام صاحب د ولایت په مر کز اود نورلام صاحب د علینګار د علاقی په سیمه کښی دی د لغمان دریم مشهور زیارت د میا عبد الکریم صاحب زیارت دی چی د علیشنګ په علاقه کښی دی .

د نورلام صاحب او میا عبد الکریم صاحب زیارتونه تو داوړی په ورځو کښی ډیر خلک ورځی او هلته تودی میلی جوړوی .

زما یادیږی هغه وخت دتو تو په موسم دجوزا په میاشت کښی د میا عبد الکریم صاحب په دیره او دزیارت په څنګ کښی د لغمان د خلکو میله هم په پوره خوند کیدله خیمی او تجیرونه به ودرول شول او دوه هفتی به ساعت تیر ی کیدله .

## پوهنیارظفرخان په خپلو تحقیقاتی ځیرنیزو یاد داشتونوکي د مهترلام بابا په هکله لیکی :

دلغمان مرکز (مهترلام)دی دمهترلام یا مهترلمک په هکله بیلا بیل تا ریخي روایتونه راغلي چي یوبي ادا دی چي : مهترلمک د نوح(ع) پلار دی ښځه یې« قینوش » د نوح موروه.اوپه حقه پيغمبرتیرشوی دی نوح علیه السلام د حضرت ادم ع د هبوط یا کوزیدو څخه(۱۶۴۲)کالـه وروسته پیغمبري تـه رسيدلی او زر کالـه يي عمرکړی.د لمک علیه پلارمتوشلخ،نيکه يي اختوخ او غور نيکـه يي یـارد وو؛کلـه چي دنـوح ع کښتي کي‌نـا شـته یو شمي‌روګړی دمهترلمک (ع) اودده وررنورلام ( رح) او خوربي بي بي حاجري سره یوځای دنورستا ن پـه لاره اوسني الينګارتـه راغلل،خلک يي حق دين ته رابلل او بيا په بي‌لابي‌لوځايونوكي مي‌شته شول،تاريخي روايات وايي چي لمـک پـه لغمان کي وفـات شو،خور اووروربي هم پـه الينګـار کي وفات شوي چي مشهورزیارتونه يري جوړدي خوربي دهرمل او میداني ترمينځ د بي بي حاجري په نوم زيارت لري او ورورېي نورلام صا حب د نورلام صا حب دره کي په زيارت کلي کي ښخ دی. ( د پوهنيارظفرخان « اهتمام له يادداشتونو نه )

## په دی هکله د کچوري ملا صا حب لنډ ځرګنونی هم د اهمیت وړ دي .

همدارنګه دمهترلمک د پیغمبری په هکله د هیواد مشهور روحاني او شخصیت د کچوري ملا صا حب هم به تل ویلي: هو!مهترلام با با په حقه پيغمبر دی .

د ارشاد اورنګ زیب دلیکني له مخي ( هیله پر له پسی ۱٦ ګڼه ) هم د اثابتیږی چد مهترلمک کلیمه په زړه فارسي کې لوی یا ستر ته وایې او لام په نورستانی او پشه یي کی کلي ته اومهتر خپله سترشخصیت ته ویل کیږي،دمهترلام با با د مزار خواته یو ستر باغ او حضیره(هدیره)ده په دې هدیره کې ستراومشهور کسان لکه: یوسف خان د غازي محمد نادرخان شهید پلار، شهزاده فریدون،غازي محمدشاه خان بابکرخیل ،فیض محمد خان او نور غازیان ښخ دي(۲) اوزیار تو ته بې خلک له لرې ځایوڅخه راځي پخوا به له هند او پنجا ب نه هم د لته خلک او ګرځندویان راتلل زما په یا د،د کب له پینځلسمي د ثورترپای به هره ورځ، او د پنجشنبې اوجمعي په ورځوبه په ځا نګړې ډ ول دلته د سا ز سند رو او مذهبي موسیقی په لس ګونو ډلي موجودې وی شپه او ورځ به بې مینه وال په وجّد او مستی را وستل دغه دود اوس هم په پسرلي کې لمانځل کیږي .   ( هیله پرله پسی ۱۶ ګڼه ارشاد اورنګ زیب ۱۵۲ )

## په دي تولو بر سیره پوهاند داکتر محمد حسن کاکړ د افغانستان نامتو تاریخپوه څرګنده کړې ده او حتی په دې اند دي :

چې لمك د لغمان لرغونی نوم دی او "مهتر" د مشر په مانا دی. "مهتر لمك" یاني د لغمان مشر یا پاچا. پوهاند کاکړ د افغانستان نامتو تاریخپوه هم دا ډول زیاته وي چې "لام" په پشه یي کی کلي ته وایي نو مهترلام یاتي لوی کلی.

## سر محقق عبد الله جان بختاني په دی اند دي چي :

"د مهترلمك زیارت د محمود غزنوي په عصر کې جوړ شوی دی... تر دې د مخه د ویدي په سندرو کې چې تقریبا ۱٤ سوه کاله تر میلاد د مخه د اریایي روحانیونو او شعراوو له خوا جوړ شوي دي، د لغمان نوم د "لامپکا" په شکل ذکر شوی دی ". (سر محقق عبدالله جان بختانی، ژبڅېړنه، ۲۱۰ او ۲۱۱مخونه).

---

(۱ ) لمک د اسلامي تواریخو بر بنیاد ( ۷۷۷ ) کاله عمر درلود او د هغه پلار متوشالح د خنوخ زوي ( ۹٦۹ کاله ) او خپله نوح علیه السلام چي د لمک زوي وو
( ۹۵۰ ) کاله عمر تیر کړي دي.
قرآن عظیم الشان فرمایي :
( ولقد ارسلنا نوحآ الي قومه فلبث فیهم الف سنة الا خمسین عاماً ) ( په رښتیا سره مونږ نوح علیه السلام مو خپل قوم ته واستو او ۹۵۰ کاله یي د هغوي په مینځ که ژوند وکړو. ) (د اسلام تاریخ د علي اکبر مهدی پور لیکنه مخ ۸۹ دریم چاپ بیروت )

د مقالي نوم دلغمان مهتر لا م صاحب واقعآ پیغمبر وو ؟
لیکنه اوتولوونه :
امین الدین «سعیدی »دافغان استراتیژیکو څیړنیزمرکز
اودحق دلاری کلتوری تولنی مدیر مسؤل – جرمني